مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد عارف رسولي
۲۰۱۹/۰۲/۱۴

# د لاجورد تجارتي او اقتصادي دهليز،

## جيوستراتيژيک او جيوپوليتيک اهميت

### لمړۍ برخه




**له نړيوالو مارکيټونو سره د وصل اهميت او زموږ تېر حالت:**

ترانزيتي او تجارتي لارې او اقتصادي دهليزونه د يوه ملت د اقتصادي، تجارتي، د نظرياتو د راکړې ورکړې، کلتوري ودې او ټولنيزې پراختيا لپاره د شا رګونو حيثيت لري، هغه ملت له سترو نړيوالو لارو، اقتصادی او تجارتی مرکزونو سره تړي. زر او ارزانه خپل توليدي او تجارتي توکي تر مهمو نړيوالو بازارونو په ارزانه بيه رسوي او د خپلو اړتياوو وړ مالونه په اسانه واردوي، توليدوونکي يې هڅول کېږي چې د توليداتو کيفيت لوړ او رقابت وکړي، دولت د اړوندو مقرراتو اصلاح، ساده کولو او شفافيت ته پام کوي، له فساد سره مبارزه اسانېږي او په دې توګه انفرادي او ملي اقتصاد ته زياته ګټه رسوي. له همدې کبله ولسمشر غنی په هرات کې د لاجوردو د دهليز په پرانېست غونډه کې وويل چې افغانستان په فصل نه بلکه په وصل باور لري.

د په وچه کې بند افغانستان ستونزه تر اوسه دا وه چې موږ له وصله محروم وو، زموږ دا شارګونه د حريفو هېوادونو په لاس کې وو، موږ هغوی ته اړ وو، خو زموږ ګاونډيانو موږ ته هېڅ کومه مهمه او ستراتيژيکه اړتيا نه درلوده، زموږ شارګونه يا نړيوالو اوبو، لويو لارو او نړيوالو مارکيټونو ته تجارتي او ترانزيتي لارې يا بندې وې او يا به تل تر فشار لاندې وې او په افغانانو به تل د اقتصادي فشار حمله راتلله.

ځينو ګاونډيو هېوادونو زموږ له دې مجبوريته د اسلامي او ګاونديتوب د اصولو خلاف د ځانونو په ګټه بده سياسي او ستراتيژيکه ګټه اخيستله. په دې کې د هغوی راز راز موخې وې. ترټولو سترې شيطاني موخې او هدفونه يې داوو چې:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

1. افغاني میوې، خام مواد او نور مو د دوی په ملکونو کې په نیمه بیه  وپلورل شي او بل ځای ته د صادرولو لاره ونه مومي

2. زموږ غالی، جنغوزي، پسته، چارتراش، قیمتي ډبرې او نور دوی پخپل نامه بهر ته په زیات لوړ قیمت صادر کړي

3. دوی غوښتل چې افغانستان د نورو هیوادونو له تولیداتو محروم کړي، ورته قیمته تمام شي او د تل لپاره یې د خپلو بې کیفیته تولیدي توکو مارکیت وګرزوي

4. افغانستان ونه توانیږی خپلي اوبه مهار کړي او اوبه مو د تل لپاره دوی ته ورشي

5. افغانستان ونه توانیږي چې موږ د سرک او ریل له لارې له بحر او نړیوالو مارکیټونو سره وصل او خپل طبیعي منابع راوباسو او بهر ته یې صادر کړو

6. غوښتل یې لویې پروژې او ترانزیتي لارې د دوی له ملکونو تیرې شي او افغانستان چې د مرکزي اسیا او سویلي اسیا د وصل تر ټولو لنډه او اقتصادی لاره ده له دې پروژو محروم کړي.

7. په دې توګه دوی هڅه کوله چې افغانستان دا توان و نه مه مومي چې په اقتصادي ډګر کې په پښو ودریږي او زموږ زیاتي بدبختی هم همدې شومو هڅو رامنځته کړې.

که څه هم د هیواد د آبادی رینتیني ملي قهرمان ډاکتر صاحب عبدالوکیل موږ ته د اصلاح شویو منو، زردالیو او نورو هنر او پوهه راوښودل خو په تجارت کې په پردیو تراو، خپلمنځي جنګونو، د دولتي او خصوصي سکتور د کمزورتیاوو او یو شمیر نورو لاملونو له کبله موږ په مارکیت موندلو کې پاته راغلو. زموږ د هیواد مڼې او زردالو، خربوزې او نور د خاورو په بیه د سړکونو په غاړه پلورل کېدل، زموږ د لوګر پیاز او د بامیان کچالو زموږ بزګرانو ته د کرنې لګښت نه پوره کاوه، زموږ کشمشو، پستو، جنغوزو یا بهر ته لاره نه موندله او یا د نورو ملکونو په نامه خرڅېدل. په پایله کې، موږ په خپله کرنه، د اولاد په روزنه او نورو کارونو پانګونه نشو کولای، د خپلو پستو او جنغوزو وني مو پرې کولې ځکه ګټه یې راته ښکاره نه وه، او موږ هم بې وزلي او نورو ته محتاج پاته شو.

## د لاجوردو ترانزیتي او اقتصادی دهلیز:

د لاجوردو لاره او اقتصادي دهلیز ځکه ورته وایي چې پخوا په دې لاره د افغانستان قیمتي ډبرې لکه د بدخشان لاجورد تر قفقاز، روسیې، مصر، منځني ختیځ، شمالي افریقې او بالکان  پورې رسېدل، د لاجوردو د لارې نوښت هم د افغانستان و او ځکه  ورته د لاجوردو نوم چې په انګریزي کې  د لاجوردو لاره ( The Lapis Lazuli Route) ورته وایي، ورکړ شو.
د لاجوردو اقتصادي دهلیز د افغانستان د فاریاب او هرات ولایتونو د آقینې او تورغونډۍ بندرونو څخه پیلیږي، د ترکمنستان ترکمنباشي بندر ته رسیږي، له کسپین بحیرې تیریږي، د آزربایجان پلازمینې باکو او وروسته د ګورجستان د پلازمینې تبلیسي له لارې په توره بحیره کې د هغه هیواد د پوتي او باتومي بندرونو له لارې د قارص بندر له لارې د ترکيې هیواد د استانبول، ازادو نړیوالو اوبو او اروپا سره نښلول کیږي. **په دغه ترانزیتي او اقتصادي دهلیز کې د سړک، رېل پټلی او سمندري ترانسپورتي اسانتیاوې شته وروسته به له ټولو کار واخیستل شي.** د لاجوردو لاره تر دری کلونو بحثونو او څېړنو وروسته د غرو هیوادونو تر منځ رامنځته شوه او وربابندې هوکړه وشوه.

## افغانستان ته د لاجوردو اقتصادي دهلیز ګټې:

**اقتصادي ګټې:** افغان ولسمشر اشرف غني وایي په راتلونکو دریو کلونو کې به اروپا ته د افغانستان نژدې ۸۰ سلنه صادرات او واردات د لاجوردو له لارې کیږي. دغه لار د منځنۍ اسیا د هیوادونو په منځ کې تیریږي او د ترکیې له لارې ازادو اوبو ته رسیږي.
**اوس د لاجوردو اقتصادي، تجارتي او ترانزیتي نښلوونکی دهلیز نه یوازې دا چې موږ ته د تجارت لپاره یوه بدیله لاره راکوي، د هیواد ولسمشر وایي تر راتلونکو دریو کلونو پورې به زموږ ۸۰ سلنه صادرات او واردات له دې لارې وي او د یوه یا دوو هیوادونو له تراو څخه به مو وژغوري، بلکه د کارپوهانو په قول هیواد مو د آسیا په**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**ځلور لارې بدلوي او له منځنۍ اسیا، قفقاز، شمالي افریقا، ازادو نړیوالو اوبو او اروپا سره د سوداګرۍ لپاره د افغانستان تر ټولو لنډه، ارزانه او باوري لاره بلل کیږي.**

لاجورد لاره اروپا ته زموږ تجارتي توکي بې له ګمرکي ګڼښتونو په غږو هېوادونو لکه ترکمنستان، اذربایجان، ګورجستان او ترکیه کې تر اروپا پورې د لاریو، ریل لارو او سمندر له لارې په اسانۍ سره رسوي. د لاجوردو له لارې به د افغانستان تجارتي توکي نړیوالو بازارونو ته د کراچې د بندر په پرتله درې یا ځلور ورځې کم وخت غواړي او په هره لارې به د دوه نیمو زرو او درېو زرو ډالرو تر منځ کم لګښت راځي. دا نه یوازې د ترانزیت، سوداګرېزې راکړې ورکړې لپاره مهمه ده بلکه له سیمې سره د افغانستان د پیوستون او د سوېلي اسیا، مرکزي آسیا او منځنۍ ختیځ د بازارونو د نښلولو لپاره د یوه مرکز په توګه د افغانستان د راتلونکي تضمین په لور یو ستراتیژیک ګام بلل کیږي. دا ځکه په راتلونکي کې به افغانستان د یو مرکز په توګه د چابهار بندر له لارې سوېلي اسیا او د هند بحر د لاجوردو له لارې له منځنۍ اسیا او اروپا سره او په منځنۍ اسیا کې د چین هېواد د سړک او کمربند له لوېې لارې سره ونښلوي او اټکل کیږي له ګوادر بندر سره هم افغانسان وصل شي ځکه دا به د چین او پاکستان په ګټه هم وي. نو زموږ انګور، انار، پسته، کشمش، کښتې، منې، جنغوزې، چارمغز، غالۍ، معدني مواد لکه د مرمر ډبرې او نور به تر اروپا، هند او خلیج هېوادونو پورې په اسانۍ ورسیږي، بیه او ګټه به یې څو ځلې زیاته شي. دابه موږ ته موکه راکړي چې په خپله کرنه، باغدارۍ، مالدارۍ، ځنګلونو، معدني توکو او نورو سکتورونو کې زیاته پانګونه وکړو او په ارزښت (Value Chain) یې ورزیات کړو.

## د تولیدي توکو د کیفیت ښه کېدو ګټې:

کله چې زموږ تولیدات او لاسي صنایع نړیوالو بازارونو او اروپاته په اسانه او ارزانه لاره ومومي، ښه بیه به ورباندې تر لاسه کړي، اقتصاد به یې ښه شي، د خپلو تولیدي توکو د کیفیت د ښه کولو لپاره به زموږ په خلکو کې یوه نوې انګېزه او نوی هوډ رامنځته شي او دا به د هېواد د صنعتي کېدو، د یوه سالم رقابت، د پانګونو د هڅونو، د ثروت او د کار په خلق کولو کې زیاته مرسته وکړي.

## زموږ د طبیعي سرچینو څخه ګټه اخیستل به اسانه، ممکن او اقتصادي کړي:

د هر بل ملک په څېر یوازې د طبیعي زېرمو او کانونو لرل زیاته ګټه نه لري. بلکه د کانونو د ایستلو او ګټه اخیستنې لپاره بیخبنا لکه سړکونو، ریل لارو، انرژۍ، اوبو، ماهرو کارګرانو، تخنیکي مهارتونو او د تولنیزو او چاپیریال ساتنې مدیریت کولو ته اړتیا وي. ګورو چې تر څو د لارې او انرژۍ غمه مو نه وي خوړل شوې د مس عینک، حاجیګک او نورو کانونو څخه ګټه اخیستنه به اسانه نه وي.

**ستراتېژیکي ګټې: ستراتېژیکي ګټې به یې داوي چې کله موږ په رښتیا له نړیوالو مارکیټونو سره وصل شوو بیا به په وچه کې بند هېواد نه بلکه د سترو اقتصادي سیمو او بازارونو د نښلولو د پله حثیت به ولرو، افغانسان به یو ستراتېژیک لوبغاړی هېواد شي، د اوس په پرتله به زموږ تړاو په نورو ملکونو کم او د نورو ملکونو ستراتېژیکي اړتیاوې به راباندې زیاتې شي او په اړیکو کې به مو زموږ په ګټه زیات توازن رامنځته شي. د زیاتو ګاونډیو ملکونو لکه ترکمنستان او د منځنۍ اسیا او سویلي اسیا او نورو اقتصادي او جیو ستراتېژیکي ګټې به زموږ په سوله، سوکالۍ او پرمختګ کې خونډۍ شي او د افغانستان له ملي ثبات سره به مرسته وکړي.**

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ